لیکوال: شریف بهاند
جنوری ۲۰۰۸م

# د ډالر او یورو تر منځ پټه سیالي

لومړی برخه

ډالر زموږ پيسه، خو ستاسو ستونزه ده.
(جان کونولی)

د بشريت تير تاريخ د نورو تر څنگ د بيلا بيل اقتصادي اوښتون (تحول) شاهد و. خو اوسمهاليز اقتصادي هغه دومره په چټکتيا سره روان دی، چې پوهېدنه (درک) يې ان هغو ته، چې په خپله د دغه اقتصادي اوښتون په مرکز دي، گران کار برېښي. ځکه هر هغه څه چې اوس له اقتصادي پلوه د نړۍ د وگړو د سترگو په وړاندې پيښېږي، د نړيوال اقتصاد په تاريخ کې بې ساري بلل کېږي او هغه هم د نړيوال اقتصادي ځواک د مرکز بدلون دی. په دې تړاو د المان پخوانی لومړی وزير، هلموت شميت Helmut Schmidt څه ښه ويلي دي: "... له دويمې نړيوالې جگړې وروسته د نړۍ د ثقل مرکز له اروپا څخه د امريکا په لوري روان شو، چې له هغه ځايه د اسيا خواته وخوځيږي. په دې توگه د لويديځ د برترۍ پير د پايته رسيدو په حال کې دی" (Steingart, Gabor, ۲۰۰٦, S. ٤٦-٤٧).
خو داسې اوښتون که گړندی دی او که ورو، عادی سکالو (موضوع) بلل کېږي. ځکه تجربو دا را په گوته کړې، چې هر رامنځته شوی نړيوال اقتصادي ځواک ځانته اقتصادي سياست او ورسره جوخت د پيسو بنسټيز واحد (کليدی پولی واحد) درلود. کله چې رومی امپراتوری پر نړۍ واکمنې چلوله، د سپينوزرو لېرې، په نوی پېر کې بيا هالندی گولډن Gulden دغه دنده پر غاړه درلوده. له هغه وروسته د بريتانوي امپراتورۍ په پړاو کې هغه سټرلېنگ پوند تر سره کوله. خو د دغې امپراتورۍ په له منځه تلو، په تيره له نړيوالو جگړو وروسته، د نړيوال ځواک په توگه د متحدو ايالتونو په رامنځته کيدو سره، سټرلېنگ پوند، خپل دغه دريځ له لاسه ورکړ او امريکايي ډالر د متحدو ايالتونو د صنايعو، طبيعي زيرمو لکه تيلو او تر ټولو دمخه په بانکونو کې د سرو زرو د زيرمو له برکته په نړۍ کې د پيسو د بنسټيز واحد په توگه رامنځته شو. په تيره د دويمې نړيوالې جگړې له پايته رسيدو په وروسته پړاو کې، چې د تايم د مجلې خپرونکی، هنری لوسی هغه د امريکايي پيړی American Century په نامه ياد کړی، سړی کولی شي په نړۍ کې د متحدو ايالتونو رول په بيلابيلو پرمختيايي پړاونو کې تر څيرنې لاندې ونيسي او دغه پړاونو:

- لومړی: د برټن ووډز Bretton Woods د مالی نظام پړاو؛
- دويم: د پترو ډالر- ريسيلېنگ Petrodollar -Recycling پړاو؛
- دريم: د پترو يورو Petro - Euro او د پترو ډالر تر منځ د سيالي پړاو (وگوري: Engdahl, F. William, ۲۰۰۳, Nr. ۱).

۱ - د برټن ووډز Bretton Woods د مالی نظام پړاو:
له دويمې نړيوالې جگړې په وروسته پړاو کې انگلو- امريکايي يوځي- اقتصادي گډې همکاری ځان ثابت کړ. متحدو ايالتونو له دا ډول هغې څخه په گټې اخيستنې سره هڅه وکړه، خپله شتمني زياته، ځواک ته پراختيا او تر لاسه شوی دريځ لا نور هم پياوړی او همدارنگه خپل سيالان له سياسي او اقتصادي پلوه کمزوري او يا د هغو د نوو له رامنځته کيدو څخه مخنيوي وکړي. په همدې موخه متحدو ايالتونو د خپلې ټلوالې له غړی هيواد بريتانيا سره اوږه په اوږه هاند و هڅه وکړه، چې له جگړې څخه د مخکې وخت په څير، مالی برترۍ د دوی په لاس کې وي او هغه لا نوره هم پياوړې کړي. نوځکه دوي د ۱۹۴۴ کال د جولای په ۲۲ نيټه نړيوالو ته بلنه ورکړه، په هغه کنفرانس کې، چې د متحدو ايالتونو د نيوهمشاير د ايالت په برټن ووډز Bretton Woods کې جوړيږي او سکالو (موضوع) يې د نړۍ د راتلونکی مالی نظام څرنگوالی دی، برخه واخلي. د کنفرانس برخه والو، چې په کې د بريتانيا د شاهی دولت د پلوی مشر، جان مينارد کينز او د متحدو ايالتونو د استازو مشر، هاری ديکسټر وايټ Harry Dexter White بنسټيز رول لوباوه، په نوموړی سکالو له خبرو اترو وروسته د نړۍ پر نوی مالی سيستم، چې د برټن ووډز Bretton Woods په نامه نامتو دی، هوکړه وکړه.
د اف، ويليم انگډال F. William, Engdahl په اند، د برټن ووډز Bretton Woods نوی مالی نظام په لاندنيو ۳ بنسټيزو ستنو ولاړ و:


افغان جرمن آنلاین شما را صمیمانه به همکاری دعوت می نماید. لطفاً به آدرس ذیل با ما تماس بگیرید
maqalat@afghan-german.de

- نړیوال وجهي صندوق: زیرمه ( ریزرف) یې د غړو هیوادونو له ورکړ شو پیسو څخه په دې موخه رامنځته شوه، چې له هغو غړي هیوادونه سره مرسته وکړي، چې د خپلو پورونو په ورکړه کې له ستونزو سره مخامخ کېږي؛
- نړیوال بانک: موخه یې له غړو هیوادونو سره د دوي د سترو پرمختیایي پروژو د تمویل په برخه کې مرسته کول دي او
- د ګمرک او سوداګرۍ تولیز تړون (GATT) General Agreement on Tarif and Trade: په دې موخه رامنځته شوی، چې د نړۍ په کچه د ازادې سوداګرۍ سیستم تنظیم کړي (وګورئ: Engdahl, F. William, ۲۰۰۳, Nr. ۲, S. ۱۳۸).

سربیره پر دې جان مینارد کینز د کنفرانس ګډون کونکو ته وړندیز وکړ، چې داسي یوه پیسه دی باید بنسټیز رول ولوبوي، چې هغه په ټوله نړۍ کې د چلند وړ وي. نوموړی په خپل دغه وګ (زیرکتیا) سره هڅه کوله، چې یو ځل بیا سترلینګ پوند د پیسو د بنسټیز واحد په توګه ومنل شي. دا چې د دویمي نړیوالي جګړې د سترو لګښتونو له امله د بریتانیا هیواد له اقتصادي پلوه ډیر کمزوری شوی و، کینز و نشو کړی خپل دغه نظر پر نورو ومني. خو د امریکای پلوی له پاره د نوموړي دغه نظریه ډیره په زړه پورې او وکړی شول، د خپل ځواکمن صنعتی بنسټ، طبیعي توکو او بانکي زیرمو (د سرو زرو) له برکته، خپله پیسه، ډالر د پیسو د بنسټیز واحد په توګه رامنځته کړي. د هغه رول په مستقیمه توګه په سرو زرو پورې تړی و (د سرو زرو د هر سوچه انس[ ۱ .۳۱ ګرامه] بیه ۳۵ ډالره ټاکل شوې وه) او ډالر د پیسو د بنسټیز واحد په توګه:

۱. د ارزی زیرمي؛
۲. د سوداګریز ارز؛
۳. د ارز پاڼي (اوراق بهادار) او
۴. د تیلو د راکړې ورکړې د ارز دنده تر لاسه کړه (وګورئ: Altvater, Elmar, ۲۰۰۳, S. ۱۱).

پورتني دندي دا روښانه کوي، چې د ډالر راتلونکي یو عادی سکالو نه، بلکي د امریکایي پیرې بنسټیز زړی بلل کېږي، چې د دغه هیواد نړیوال رول پر هغه ولاړ دی. اف، ویلیم انګدال F. William Engdahl د متحدو ایالتونو په باب لیکي: " په نړۍ کې د متحدو ایالتونو برتري په بنسټیزه توګه پر دوو ستنو [لکه]:

- د دوي تر حده زیاتي پوځي برترۍ، په تیره پر سمندرونو او
- د ډالر د رول په مرسته د نړۍ پر اقتصادي بهیر او ارز زیرمو باندې د کنټرول له لارې، ولاړه ده " (Engdahl, F. William, ۲۰۰۳, Nr. ۱).

همدا لامل و، چې له دویمي نړیوالي جګړې په وروسته پړاو، په تیره د برتن وودز Bretton Woods د سیستم په رڼا کې، نړیوال مالی نظم په نسبی توګه ټینګ و. د فرانسي له فرانکه نیولی بیا د بریتانوی سترلینګ پوند او المانی مارک پورې د ټولو ارزښت څه نا څه ثابت و. په دغه پړاو کې نه یوازې متحدو ایالتونو، بلکي د اروپایي ټولوالي غړو هیوادونو ډیرې مثبتي اقتصادي ګټې ترلاسه کړې. لویدیځي اروپا له بیا رغوني وروسته، خپله اقتصادي وده پیل او وکولی شول، په خپلو پښو ودریږي او د تیرې پیړۍ د شپږمي لسیزې له نیمايي وروسته د نورو تر څنګ د صنعتي توکو په یوې صادرونکي سیمي بدله شي. همدا:

- د لویدیځي اروپا اقتصادي ځواکمنتیا او
- د ویتنام د خونړۍ جګړې لګښت؛

د دې لامل شول، چې د برتن وودز د مالی نظام د سرو زرو سیستم له ستونزو، یا په بنکاره توګه ووېل شي، له ماتي سره مخامخ شي. متحدو ایالتونو د ویتنام د جګړې د تمویل په موخه په زیاته پیمانه ډالر چاپ او نړیوال بازارونو ته وړاندې کړل، چې دغه حالت نه یوازې د ډالر پر ارزښت منفی اغیز وکړ، بلکي د دغه هیواد د بودجې د کسر لامل شو. "... د جګړې دغه مخ په زیاتیدونکی لګښت په ۱۹۶۸کال کې ۲۵ میلیاردو ډالرو ته لوړ شو ( Engdahl, F. William, ۲۰۰۳, Nr. ۲, S. ۱۸۰). د دې تر څنګ له دویمي نړیوالي جګړې وروسته د لومړی ځل له پاره له متحدو ایالتونو څخه لویدیځي اروپا ته د پانګې تښته ګړندي شوه. ویلیم انګدال هم دې سکالو ته نغوته (اشاره) او په دې باب لیکي: " د ۱۹۵۷ ـ ۱۹۶۵ کلونو تر منځ له متحدو ایالتونو، لویدیځي اروپا ته د پانګې تښته له څه نا څه ۲۵ میلیاردو ډالرو ۴۷ میلیاردو هغو ته لوړه شوه" ( Engdahl, F. William, ۲۰۰۳, Nr. ۲, S. ۱۷٤). سربیره پر دې تر ټولو ګواښمن سکالو، د متحدو ایالتونو له مرکزی بانک او په تیره د سرو زرو له ګډ زیرمتون، ګولد پول


افغان جرمن آنلاین شما را صمیمانه به همکاری دعوت می نماید. لطفاً به آدرس ذیل با ما تماس بگیرید
maqalat@afghan-german.de

•Gold – Pool ځخه د هغو د زیرمو مخ په زیاتیدونکی کمیدل و. ځکه د تیرې پیړۍ د شپږمې لسیزې په ترځ کې د فرانسې ولسمشر، جنرال دوګل General de Gaulle د خپل هیواد د ډالري زیرمو په بدل کې د متحدو ایالتونو د سرو زرو له دولتی زیرمتون ځخه، د برتن وودز Bretton Woods د هوکړې پر بنسټ، د سرو زرو غوښتنه وکړه. په دې توګه د ۱۹۶۷کال د نوامبر له میاشتې وروسته له متحدو ایالتونو او د سرو زرو له ګډ زیرمتون ځخه د سرو زرو رانیول زیات شول. "یوازې د پنځو ورځو په ترځ کې باید لندن ۸۰ ټنه سره زر بازار ته وړاندې کړی وی، چې دا ډیر زیات سره زر و" ( Engdahl, F. William, ۲۰۰۳, Nr. ۲, S. ۱۹٤). خو دغه وضعه په همدې حال پاتې نه شوه، بلکې سرو زرو ته غوښتنه ورځ په ورځ زیاتیده. له همدې امله " د سرو زرو د بیې د ساتنې په موخه په لندن کې د سر زرو زیرمتون دې ته اړ شو، چې د ۱۹۶۸ کال د مارچ د ۸ - ۱۵ تر منځه ۱۰۰۰ ټنه سره زر بازار ته وړاندې کړي" ( Engdahl, F. William, ۲۰۰۳, Nr. ۲, S. ۱۹٥).
په دغه وخت کې د برتن وودز د سرو زرو د سیستم کمزوره کړی بریتانیا وه. دغه هیواد د خپلو اقتصادي ستونزو له امله دې ته اړ شو، چې د خپلې پیسې، سترلینګ پوند، د ټینګاو (ثبات) په موخه د متحدو ایالتونو له ټینګار سره سره د هغه ارزښت ځلورلس په سلو کې راټیټ کړی. د بریتانویانو د دا ډول کړنې له امله، پر ډالر اغیز لا نور هم زیات شو. د نورو مرکزي بانکونو تر ځنګ د فرانسې د مرکزي بانک له خوا د ډالر په وړاندې د سرو زرو غوښتنې د هغو بیه په بازارونو کې لا نوره لوړه کړه. پر ډالرو اغیز هغه وخت لا نور زیات شو، کله چې فرانسې د سرو زرو له ګډ زیرمتون ځخه خپل وتل اعلان کړ. د فرانسې د لومړی وزیر، جورج پمپې دو Georges Pompidou په اند: "نړیوال ارزی سیستم، چې بریتانیا او متحدوایالتونو رامنځته کړي، په ډیر ناوړه توګه کړه وړه تر سره کوي. ځکه دغه سیستم [د نورو هیوادونو په پرتله] بریتانیا او متحدو ایالتونه غوره ګڼي. دغه هیوادونه پرته له دې چې د انفلاسیون په وړاندې څه تر سره کړي، ځانته اجازه ورکوي، کلونه کلونه هغه رامنځته کړي"( Engdahl, F. William, ۲۰۰۳, Nr. ۲, S. ۱۹٤). له پورتنیو کرښو دا پایله تر لاسه کیږي، چې هر هیواد تر هر څه دمخه خپلې ملی ګټې په پام کې ساتلې. په رښتیا هم لکه د بریتانیا د پخوانی لومړی وزیر، چرچیل په وینا: "هیوادونه دایمي ګټې لري، نه دایمي ملګري". سر بیره پر دې پورتنې ستونزې د دې لامل شوې، چې د برتن وودز د مالی نظام د سرو زرو سیستم له ماتې سره مخامخ شي او د متحدو ایالتونو د وخت ولسمشر، نکسن هم بالاخره دې ته اړ شو، چې له خپلو نږدې سلاکارانو سره له مشورې وروسته، په خپلې ډیرې لنډې وینا کې د هغه د ماتې اعلان وکړي. په دې توګه د امریکایي پیړۍ لومړی پړاو پایته ورسید او د هغه دویم ته، چې د پترو ډالر - رسیسلېګ په نامه یاد شوی، لاره پرانیستل شوه.

نور بیا

• د سرو زرو زیرمتون یا ګولډ پول Gold-Pool د متحدو ایالتونو په ټینګار په ۱۹۶۱ کال کې رامنځته شو. د متحدو ایالتونو او بریتانیا تر ځنګ د سرو زرو په دغه کلوپ کې فرانسه، ایتالیا، بنیلوکس Benelux هیوادونه (بلجیم، نیدرلند، لوکزامبورګ)، سویډن، کاناډا، چاپان، سویس او د المان فدرالی جمهوریت غړیتوب لري.


افغان جرمن آنلاین شما را صمیمانه به همکاری دعوت می نماید. لطفاً به آدرس ذیل با ما تماس بگیرید
maqalat@afghan-german.de